۴- د سېلاب او وچکالي پېښېدو د وړاندوېيني او خبرداري د مدیریت ښه والي په موخه د اوبو سرچينو د ارقامو او معلوماتو سمون.

۵- د سېلاب او وچکالي پېښېدو د تکراريدو شننه، په سېلابي زونونو او سيندونو کې د سېلاب خبرداري د ښنو لګول.

۶- د سېلاب او وچکالي پېښېدو د وړاندوېيني او خبرداري د پايلو خپريدو لپاره د ګړنديو او اعتماد وړ اړيکو په موخه د آسانتياوو چمتو کول.

۷- د سېلابي زونونو د ارقامو او معلوماتو د تجزيې او شنني په موخه د آسانتياوو چمتو کول او اوبو سرچينو په معلوماتي بانک کې د سېلاب او وچکالي د برخې پراختيا.

۸- په اوبخور کې د سېلاب او وچکالي پېښېدو د وړاندوېيني او

۴- انسجام ارقام و معلومات منابع آب جهت بهبود مدیریت پیشگویی و هشدار دهی از وقوع سیلاب و خشکسالی.

۵- تحلیل وقوع تکراریت سیلاب و خشکسالی، نصب علامات هشدار دهی سیلاب در دریاها و زون های سیلابی.

۶- فراهم آوری تسهیلات جهت ارتباطات سریع و قابل اعتماد به منظور نشر نتایج پیشگویی و هشدار دهی از وقوع سیلاب و خشکسالی.

۷- فراهم آوری تسهیلات جهت تجزیه و تحلیل ارقام و معلومات زون های سیلابی و انکشاف بخش ارقام سیلاب و خشکسالی در بانک معلوماتی منابع آب.

۸- ارتقاء ظرفیت کارکنان حوزه های دریائی در خصوص

خبرداری په اړه د سیندیزو حوزو کارکوونکو د ظرفیت لوړول.

۹- د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري د ویب پاڼي څخه د خپرولو په موخه د بارانونو او سېلاب د اوسني او راتلونکي حالت په اړه د تحلیلونو، وړاندوینو او خبرداریو د خبرتیاوو وړاندې کول.

۱۰- په فرعي سیندیزو حوزو کې د سېلاب او وچکالی د پېښېدو په اړه عامه پوهاوی.

۱۱- د سېلاب او وچکالی پېښېدو د وړاندوینې او خبرداری په موخه له اړونده اداري څخه د هایدرومتیورولوژیکي اطلاعاتو راټولول.

۱۲- د SPF، PMF او نورو منل شوو نړیوالو نورمونو په پام کې نیولو سره د هایدروتخنیکي ودانیو شننه.

## د سیندیزو حوزو د عمومي ریاستونو دندې او مسوولیتونه

پیشگویی و هشدار دهی از وقوع سیلاب و خشکسالی در حوزه آبریز.

۹- ارائه اطلاعیه ها، تحلیل ها، پیشگوئی ها، هشدار های مربوطه از وضعیت فعلی و آینده بارندگی و سیلاب جهت نشر در سایت اداره ملی تنظیم امور آب.

۱۰- آگاهی دهی عامه از وقوع سیلاب و خشکسالی در حوزه های فرعی دریائی.

۱۱- جمع آوری اطلاعات متیورولوژیکی از اداره مربوطه جهت پیشگوئی و هشدار دهی از وقوع سیلاب و خشکسالی.

۱۲- تحلیل ساختمان های هایدروتخنیکی با درنظرداشت نورم های SPF، PMF و سایر نورم های قبول شده بین المللی.

## وظایف و مسئولیت های ریاست های عمومی حوزه دریائی

**اتمه ماده:**

په اوبخور کې د سېلاب او وچکالي پيښېدو د وړاندوېينې او خبرداری په چارو کې د سينديزو حوزو عمومي رياستونه لاندې دندې او مسووليتونه لري:

۱- د پلان جوړولو په موخه له فرعي سيندیزو حوزو څخه د خبرداری سيستمونو د لګولو لپاره د سېلابي زونونو د ارتياوو راټولول.

۲- د اوبو سرچينو د عمومي رياست په مرسته د سېلاب او وچکالي پيښېدو د وړاندوېينې او خبرداری سيستمونو ساتنه او پاملرنه.

۳- د فرعي سيندیزو حوزو سره په اوبخور کې د سېلاب او وچکالي پيښېدو د وړاندوېينې او خبرداری د تحليلونو پايلې شريکول.

**مادهٔ هشتم:**

ریاست های عمومی حوزه های دریائی در امور پیشگویی و هشدار دهی از وقوع سیلاب و خشکسالی در حوزه آبریز دارای وظایف و مسئولیت های ذیل می باشند:

۱- جمع آوری نیازمندی زون های سیلابی به منظور نصب سیستم های هشدار دهی از حوزه های فرعی دریائی جهت پلان گذاری.

۲- حفظ و مراقبت سیستم های پیشگویی و هشدار دهی از وقوع سیلاب و خشکسالی در همکاری با ریاست عمومی منابع آب.

۳- شریک سازی نتایج تحلیل های پیشگویی و هشداردهی از وقوع سیلاب و خشکسالی در حوزه آبریز با حوزه های فرعی دریائی.

۴- د سېلاب او وچکالۍ پېښېدو د وړاندوېينې او خبرداري په اړه د فرعي سينديزو حوزو د رياستونو سره مرسته.

۵- فرعي سينديزو حوزو ته د سېلاب او وچکالۍ پېښېدو د وړاندوېينې او خبرداري په اړه د روزنيزو ورکشاپونو جوړول.

۶- د اوبو سرچينو د عمومي رياست سره د سېلاب او وچکالۍ تر پېښېدو وروسته د ارقامو او معلوماتو شريکول.

<u>د فرعي سينديزو حوزو د رياستونو دندې او مسووليتونه</u>

<u>نهمه ماده:</u>

په اوبخور کې د سېلاب او وچکالۍ پېښېدو د وړاندوېينې او خبرداري په چارو کې د فرعي سينديزو حوزو رياستونه لاندې دندې او مسووليتونه لري:

۱- د خبرداري سيستمونو لګولو په موخه د سېلابي زونونو د اړتياوو پېژندل.

۴- همکاری با رياست های حوزه فرعی دريائی در عرصه پيشگويی و هشداردهی از وقوع سيلاب و خشکسالی.

۵- تدوير ورکشاپ های آموزشی در عرصه هشداردهی از وقوع سيلاب و خشکسالی برای حوزه های فرعی دريائی.

٦- شريک سازی ارقام و معلومات بعد از وقوع سيلاب و خشکسالی با رياست عمومی منابع آب.

<u>وظايف و مسئوليت های رياست های حوزه فرعی دريائی</u>

<u>مادۀ نهم:</u>

رياست های حوزه فرعی دريائی در امور پيشگويی و هشدار دهی از وقوع سيلاب و خشکسالی در حوزه آبريز دارای وظايف و مسئوليت های ذيل می باشند:

۱- تشخيص نيازمندی زون های سيلابی به منظور نصب سيستم های هشدار دهی.

۲- د سیلاب او وچکالی پیښېدو د وړاندوېینې او خبرداریٔ سیستمونو ساتنه او پاملرنه.

۳- د اوبو کمښت (وچکالۍ) او د سیلاب اعظمي بهیر د ارقامو او معلوماتو راټولول.

۴- د اړونده ادارو او د خلکو بنسټونو ( میرابانو، له اوبو څخه د ګټې اخیستونکو ټولنې، د پراختیایي شوراګانو او د خلکو واړه بنسټونو) سره په اوبخور کې د سیلاب او وچکالی پیښېدو په هکله د لاسرسي وړ لارو څخه د اطلاعاتو شریکول.

۵- په اوبخور کې د سیلاب او وچکالی پیښېدو او د اوبو په لګښت کې د سپما په اړه عامه پوهاوی.

۶- د سیلاب او وچکالی تر پیښېدو وروسته د ارقامو او معلوماتو راټولول او د سیندیزې حوزې عمومي ریاست ته استول.

۲- حفظ و مراقبت سیستم های پیشگویی و هشدار دهی از وقوع سیلاب و خشکسالی.

۳- جمع آوری ارقام و معلومات جریان اعظمی سیلاب و کم آبی (خشکسالی).

۴- شریک سازی اطلاعات از وقوع سیلاب و خشکسالی در حوزه آبریز از طریق ممکنه برای ادارات ذیربط و نهاد های مردمی ( میراب ها، انجمن استفاده کنندگان آب، شورا های انکشافی و سایر نهاد های مردمی).

۵- آگاهی دهی عامه در رابطه به وقوع سیلاب و خشکسالی در حوزه آبریز و صرفه جوئی در مصرف آب.

۶- جمع آوری ارقام و معلومات بعد از وقوع سیلاب و خشکسالی و ارسال آن به ریاست عمومی حوزه دریائی.



Water Policy Department

۷- د اوبو څخه د ګټې اخیستونکو تولني او میرابانو ته د سېلاب او وچکالۍ پېښېدو په اړه د روزنیزو ورکشاپونو جوړول.

۸- د تلې متري سیستمونو په لګولو کې مرسته او په سېلابي زونونو کې د سېلاب د پېښېدو په اړه خبرداری.

۹- په سېلابي زونونو کې د سېلاب ارقامو د شننې سره سم د سېلاب خبرداری د نښو لګول.

۱۰- د سېلاب او وچکالۍ پېښېدو د خبرداری په اړه د اړونده ولایتي ادارو سره همغږي.

**د میرابانو او له اوبو څخه د ګټې اخیستونکو تولني مکلفیتونه**

**لسمه ماده:**

په اوبخور کې د سېلاب او وچکالۍ پېښېدو په اړه میرابان او له اوبو څخه د ګټې اخیستونکو تولني اړ دي، تر څو د سېلاب خبرداری د نښو په لګولو کې د اړونده



۷- تدویر ورکشاپ های آموزشی در عرصه هشدار دهی از وقوع سیلاب و خشکسالی برای انجمن استفاده کنندگان آب و میراب ها.

۸- همکاری در نصب سیستم تلی متری و هشدار دهی از وقوع سیلاب در زون های سیلابی.

۹- نصب علامات هشدار دهی سیلاب با در نظر داشت تحلیل ارقام سیلاب در زون های سیلابی.

۱۰- ایجاد هماهنگی با ادارات ولایتی ذیدخل در خصوص هشدار دهی از وقوع سیلاب و خشکسالی.

**مکلفیت های میراب ها و انجمن استفاده کنندگان آب**

**مادهٔ دهم:**

میراب ها و انجمن استفاده کنند گان آب در خصوص هشدار دهی از وقوع سیلاب و خشکسالی در حوزه آبریز مکلف اند، با حوزه های دریائی در نصب علامات

سیندیزو حوزو سره مرسته او د روزنیزو برنامو پایلې د پوهاوي په موخه د خلکو سره شریکې کړي.

## دریم څپرکی
## ارقامو او معلوماتو، تجزیه او شننه، وړاندوېینه او خبرداری

ارقام او معلومات

یوولسمه ماده:

(۱) د سېلاب په ارقامو او معلوماتو کې لاندې هایدرومتیورولوژیکي پارامترونه شامل دي:

۱- د اورښت ډول، شدت او دوام.

۲- د سېلابي بهیر حجم.

۳- د سېلاب اعظمي بهیر.

۴- د سیندیزې حوزې هایدرولوژیکي او فزیکي خصوصیات.

۵- د سپوږمکۍ د لوړ دقت لرونکي انځورونه.

۶- د اوبو ارقام د واورې معادل.

هشدار دهی سیلاب همکاری نموده و نتایج برنامه های آموزشی را جهت آگاهی با مردم شریک سازند.

## فصل سوم
## ارقام و معلومات، تجزیه و تحلیل، پیشگویی و هشدار دهی

ارقام و معلومات

مادهٔ یازدهم:

(۱) پارامترهای هایدرومتیورولوژیکی ذیل مشمول ارقام و معلومات سیلاب می باشد:

۱- نوع، شدت و دوام بارندگی.

۲- حجم جریان سیلابی.

۳- جریان اعظمی سیلاب.

۴- خصوصیات فزیکی و هایدرولوژیکی حوزه آبریز.

۵- تصاویر ستلایتی به دقت بالا.

۶- ارقام آب معادل برف.



Water Policy Department

۷- د یخچالي جهیلونو او د اوبو د زیرمو ارقام.

۸- د ریموټ سنسنګ او جي آی اس ارقام:

- land use
- land cover
- Soil map/type
- Soil moisture
- Etc.

(۲) د وچکالۍ په ارقامو او معلوماتو کې لاندې هایدرومتیورولوژیکي پارامترونه شامل دي:

۱- د اورښت کچه.
۲- تودوخه.
۳- د بهیر اندازه.
۴- د خاورې لندبل.
۵- د تبخیر او تعرق کچه.
۶- د باد (شمال) لوری او سرعت.
۷- د سپوږمکۍ د لوړ دقت لرونکي عکسونه.

۷- ارقام جهیل های یخچالی و ذخایر آبی.

۸- ارقام ریموت سنسنگ و جی آی اس:

- land use
- land cover
- Soil map/type
- Soil moisture
- Etc.

(۲) پارامترهای هایدرومتیورولوژیکی ذیل مشمول ارقام و معلومات خشکسالی می باشد:

۱- میزان بارندگی.
۲- حرارت.
۳- مقدار جریان.
۴- رطوبت خاک.
۵- میزان تبخیر و تعرق.
۶- سمت و سرعت باد.
۷- تصاویر ستلایتی به دقت بالا.

**۸- د ریموټ سنسنک او جي آی اس ارقام:**

- land use
- land cover
- Soil map/type
- Soil moisture
- Etc.

**د سېلاب او وچکالۍ د وړاندوېينې او خبرداري د ارقامو تجزیه او شننه**

**دوولسمه ماده:**

**(۱) د سېلاب د ارقامو په شننه کې دې لاندې موضوعات په پام کې ونیول شي:**

۱- د سېلاب ځایي څېرنه او د ګواښ په پام کې نیولو سره د هغې زون کول.

۲- په موسمي او کلنۍ توګه د سېلاب د بهیر حجم.

۳- د اوبو بهیر د هایدروګراف شننه.

۴- د سېلاب شدت، موده او دوام.



**۸- ارقام ریموت سنسنگ و جی آی اس ارقام:**

- land use
- land cover
- Soil map/type
- Soil moisture
- Etc.

**تجزیه و تحلیل ارقام پیشگوئی و هشدار دهی سیلاب و خشکسالی**

**مادۀ دوازدهم:**

**(۱) در تحلیل ارقام سیلاب موضوعات ذیل مد نظر گرفته شود:**

۱- مطالعات مکانی سیلاب و زون بندی آن از نظر خطر پذیری.

۲- حجم جریان سیلاب بصورت فصلی و سالانه.

۳- تحلیل هایدروگراف جریان آب.

۴- شدت، مدت و دوام سیلاب.

۵- د شدت، موده او دوام په پام کې نیولو سره د سېلابونو کټګوري.

۶- د سېلاب د اعظمي بهیر ترلاسه کول.

۷- د سېلاب د تکراریدو پېښېدل.

۸- د سېلاب اعظمي بهیر او د پېښېدو موده.

(۲) د وچکالۍ د ارقامو په شننه کې دې لاندې موضوعات په پام کې ونیول شي:

۱- د وچکالۍ ځایي ځیرنې او د ګواښ په نظر کې نیولو سره دهغه زون کول.

۲- د هایدرومتیورولوژیکي موسمي، کلنې او څو کلن ارقام.

۳- د وچکالۍ شدت، موده او دوام.

۴- د وچکالۍ د ډول ډلبندي.

<u>د وړاندوېینې او خبردارۍ د سیستم جزونه</u>

دیارلسمه ماده:

۵- طبقه بندی سیلاب ها نظر به شدت، مدت و دوام آن.

۶- دریافت جریان اعظمی سیلاب.

۷- وقوع تکراریت سیلاب.

۸- جریان اعظمی سیلاب و زمان وقوع آن.

(۲) در تحلیل ارقام خشکسالی موضوعات ذیل مد نظر گرفته شود:

۱- مطالعات مکانی خشکسالی و زون بندی آن از نظر آسیب پذیری.

۲- ارقام فصلی، سالانه و چندین ساله هایدرومتیورولوژیکی.

۳- شدت، مدت و دوام خشکسالی.

۴- دسته بندی نوع خشکسالی.

<u>اجزای سیستم پیشگویی و هشداردهی</u>

مادهٔ سیزدهم:

لاندې موضوعات د سېلاب وړاندوېیني او خبرداریځ د سیستم جزونه دي:

۱- د هایدرومتیورولوژکي سټېشنونو (د خبرداریځ سنسرونه).

۲- د ټلي متري سیستم.

۳- په سېلابي زونونو کې مخابراتي آلې.

۴- د سېلاب د خبرداریځ نښې.

**وړاندوېینه**

**څوارلسمه ماده:**

د سېلاب په وړاندوېینه کې دې لاندې موضوعات په پام کې ونیول شي:

۱- د سېلاب (لنډ مهاله او اوږد مهاله) ارقامو او معلوماتو په تجزیه او شننه کې دقت.

۲- د سېلاب ګواښونو په موډل کولو کې دقت.

۳- د سېلاب په وړاندوېینه کې د کارول شوو پارامترونو دقت.



موضوعات ذیل شامل اجزای سیستم پیشگویی و هشدار دهی سیلاب است:

۱- استیشن های هایدرومتیورلوژیکی (سنسر های هشدار دهی).

۲- سیستم تلی متری.

۳- آلات مخابراتی در زون های سیلابی.

۴- علامات هشدار دهی سیلاب.

**پیشگویی**

**مادۀ چهاردهم:**

(۱) موضوعات ذیل در پیشگویی سیلاب مد نظر گرفته شود:

۱- دقت در تجزیه و تحلیل ارقام و معلومات (کوتاه مدت و طویل المدت) سیلاب.

۲- دقت در مدل سازی خطرات سیلاب.

۳- دقت در پارامتر های مورد استفاده در پیشگویی سیلاب.

(۲) د وچکالۍ په وړاندوینه کې دې لاندې موضوعات په پام کې و نیول شي:

۱- د اړونده شاخصونو پر بنسټ د وچکالۍ د ارقامو او معلوماتو تجزیه او شننه.

۲- په کارول شوو شاخصونو کې دقت.

۳- د وچکالۍ د شدت، مودې او دوام په شننه کې دقت.

## خبرداري

**پنځلسمه ماده:**

(۱) د سېلاب په خبرداري کې دې لاندې موضوعات په پام کې و نیول شي:

۱- د سېلاب شدت او دوام.

۲- د سېلاب ډول.

۳- د سېلاب تیریدو لاره.

۴- د سېلاب تر پوښښ لاندې سیمې.

(۲) موضوعات ذیل در پیشگویی خشکسالی مد نظر گرفته شود:

۱- تجزیه و تحلیل ارقام خشکسالی به اساس شاخص های مربوطه.

۲- دقت در شاخص استفاده شده.

۳- دقت در تحلیل شدت، مدت و دوام خشکسالی.

## هشدار دهی

**مادهٔ پانزدهم:**

(۱) موضوعات ذیل در هشداردهی سیلاب مد نظر گرفته شود:

۱- شدت و دوام سیلاب.

۲- نوعیت سیلاب.

۳- مسیر عبور سیلاب.

۴- ساحات تحت پوشش سیلاب.



Water Policy Department

**(۲) د وچکـــالۍ پـــه خبـــرداريځ کـــي دې لانـــدې موضـــوعات پـــه پـــام کـــي ونيول شي:**

**۱- د وچکـــالۍ (پيـــل او پـــای)، شـــدت، موده او دوام.**

**۲- د وچکالۍ ډول.**

**۳- د وچکـــــالۍ لـــــه املـــــه زيـــــان منونکي سيمي.**

## څلورم څپرکی
## متفرقه حکمونه

**د وړاندوېينې او خبرداريځ دقت**

**شپاړسمه ماده:**

**پـــه اوبخـــور کـــي د ســـيلاب او وچکـــالۍ پېښېـــيدو د وړانـــدوېينې او خبـــرداريځ د دقـــت پـــه موخـــه دې لانـــدې موضـــوعات پـــه پـــام کـــي ونيـــــــول شي:**

**۱- د تحليـــــل شـــــوو ارقـــــامو او معـــــلوماتو لـــــه (دقـــت او صـــحت) څخه ډاډ.**

**(۲) موضـــــوعات ذيـــــل در هشـــــدار دهـــى خشکســـــــالى مـــد نظـــر گرفتـــه شود:**

**۱- شـــــدت، مـــــدت و دوام (شـــــروع و ختم) خشکسالى.**

**۲- نوعيت خشکسالى.**

**۳- ســـــــاحه آســـــيب پـــــذيرى خشکسالى.**

## فصل چهارم
## احکام متفرقه

**دقت در پيشگويى و هشدار دهى**

**مادۀ شانزدهم:**

**جهـــت دقـــت در پيشـــگوئى و هشـــدار دهـــــى از وقـــــوع ســـــيلاب و خشـــــکسالى در حـــوزه آبريـــــز موضـــوعات ذيـــل مـــــد نـــــظر گرفتـــه شود:**

**۱- اطمينـــــان از (دقـــت و صـــحت) ارقـــام و معلومـــــات تحلـــــيل شده.**

۲- د خبـرداريځ مرکـــز تــه پــه اوبخــوړ کــي د ســېلاب او وچکــالي پيښــېدو د اطــلاعاتو ليــــږد.

۳- پـــه اوبخـــوړ کـــــي د ســـېلاب او وچکـــالي پـــه پيښـــېدو او خبــــرداريځ کـــي د تــــر کــــــارولو لانـــــدې مـــوډلـــــونو دقـت.

۴- اړونـــــده ادارو تـــــه د اطلاعـــــاتو د ليږد موده.

<u>د پايلو شريکول</u>

اووه لسمه ماده:

(۱) د اړونـــــده ادارو ســـــره د ســـــېلاب پيښــېدو د وړانــدوېينې او خبـرداريځ پـايلي دې په لاندې ډول شريکي شي:

۱- يــــوه ورځ وړانـــــدې د ناڅــــاپي سـېلابونو او تالنــده بـارانونو لـــه املـــه د رامنځتـــــه کېـــدونکو ســـــېلابونو د پيښېدو څخه خبرتيا.

۲- د وخـــت ســــره ســــــم اړونـــــده ادارو تــــــه د بنـــــدونو ماتيــــدو او ناڅــاپي ســـېلابونو لـــه پيښـــېدو څخـــه خبرتيا.

۲- ارســــال اطلاعــــات بـــــه مرکـــــز هشـــدار دهـــی از وقـــوع ســـيلاب و خشکسالی در حوزه آبريز.

۳- دقــت مــدل هــای تحــت اســتفاده در پيشـــگويی و هشـــدار دهـــی از وقـــوع ســــيلاب و خشکســــالی در حــــوزه آبريز.

۴- مـــدت زمـــان ارســـال اطلاعـــات برای ادارات ذيربط.

<u>شريک سازی نتايج</u>

مادهٔ هفدهم:

(۱) نتــايج پيشــگويی و هشــدار دهــی از وقـــوع ســـيلاب طـــور ذيـــل بـــا ادارات ذيربط شريک ساخته شود:

۱- اطـــلاع از وقـــوع ســـيلاب هـــای ناگهـــانی و ســـيلاب هـــــای ناشـــی از بـــاران هـــای شـــــديد يـــک روز قبل.

۲- اطـــلاع از وقـــوع ســـيلاب هـــای ناگهـــانی و شکســـــت بنـــــد هـــا عنــــــــــــدالموقع بــــــه ادارات ذيربط.

۳- دوه ورځې وړاندې د موسمي و یجاړوونکو سېلابونو د پېښېدو څخه خبرتیا.

۴- یوه اونۍ وړاندې د واورې او یخچالونو د ویلې کېدو له امله د ناڅاپي سېلابونه څخه خبرتیا.

۵- تر ګواښ لاندې سېلابي زونونو د نقشې شریکول.

(۲) ۴ میاشتې وړاندې د سېلاب او وچکالۍ د پېښېدو وړاندوېيني او خبرداري پایلې د شدت او دوام په پام کې نیولو سره د اړونده ادارو او د خلکو بنسټونو (میرابانو، د اوبو څخه د ګټې اخیستونکو ټولنې، د پراختیایي شوراګانو او نورو واړه بنسټونو) سره شریکول.

(۳) د سېلاب او وچکالۍ د پېښېدو د وړاندوېيني او خبرداري پایلې دې دفتر ریاست له لارې د اړونده ادارو سره، او د سیندیزو حوزو له لارې د خلکو



۳- اطلاع از سیلاب های فصلی مخرب دو روز قبل از وقوع آن.

۴- اطلاع از سیلاب های ناگهانی از ذوبان برف و یخچال یک هفته قبل از وقوع آن.

۵- شریک سازی نقشه زون های سیلابی تحت خطر.

(۲) نتایج پیشگویی و هشدار دهی از وقوع خشکسالی با در نظرداشت شدت و دوام آن ۴ ماه قبل از وقوع آن با ادارات ذیدخل و نهاد های مردمی (میراب، انجمن استفاده کنندگان، شورا های انکشافی و سایر نهاد ها) شریک ساخته شود.

(۳) نتایج پیشگویی و هشدار دهی از وقوع خشکسالی با ادارات ذیدخل از طریق ریاست دفتر و با نهاد های مردمی (میراب ها و انجمن

بنستونو (میرابانو، د اوبو څخه د ګټې اخیستونکو ټولنې، د پراختیایي شوراګانو او نور واړه بنستونو) سره شریکي شي.

(۴) د اوبو سرچینو عمومي ریاست اړ دی، چې د دې مادې د (۱) فقره له ۱ تر ۵ درج شوو جزونو پایلې د بنسته پلي کېدو په موخه د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري له رسمي سایټ څخه خپرې کړي.

**ساتنه او پاملرنه**

**اتلسمه ماده:**

د اوبو سرچینو عمومي ریاست او د سیندیزو حوزو ریاستونه اړ دي، چې په اوبخور کې د سېلاب او وچکالۍ پېښېدو د وړاندوېینې او خبرداری سیستمونو د ساتنې او پاملرنې په موخه د ځانګړي تدبیرونه ونیسي.

**د لایحو او لارښودونو وضع کول**

**نولسمه ماده:**

های استفاده کنندگان آب و شوراهای انکشافی و سایر نهاد ها) از طریق حوزه های دریائی شریک ساخته شود .

(۴) ریاست عمومی منابع آب مکلف است، جهت تحقق اجزای مندرج ۱-۵ فقره (۱) این ماده نتایج مربوطه را از طریق سایت رسمی اداره ملی تنظیم امور آب به نشر برساند.

**حفظ و مراقبت**

**مادهٔ هژدهم:**

ریاست عمومی منابع آب و ریاست های حوزه های دریائی مکلف اند، جهت حفظ و مراقبت سیستم های پیشگوئی و هشدار دهی از وقوع سیلاب و خشکسالی در حوزه آبریز تدابیر خاص را اتخاذ نمایند.

**وضع لوایح و رهنمود ها**

**مادهٔ نزدهم:**

د اوبو سرچینو عمومي ریاست کولای شي د دې کړنلارې د ښه پلي کېدو لپاره د اړوندو ادارو په مرسته د اړتیا وړ لایحې او لارښودونه وضع کړي.

انفاذ

شلمه ماده:

دا کړنلاره تر منظورۍ وروسته نافذه ده.

په اوبخور کې د سېلاب او وچکالۍ پېښېدو د وړاندوېيني او خبرداري کړنلاره چې په ۳ څپرکو او ۲۰ مادو کې تنظیم شوې، منظور ده.

ریاست عمومی منابع آب به منظور تطبیق بهتر احکام این طرزالعمل می تواند لوایح و رهنمود های مورد نیاز را در همکاری با ادارات ذیربط وضع نماید.

انفاذ

مادهٔ بیستم:

این طرزالعمل بعد از منظوري نافذ است.

طرزالعمل پیشگویی و هشداردهی از وقوع سیلاب و خشکسالی در حوزه آبریز که در ۳ فصل و ۲۰ ماده تنظیم گردیده، منظور است.

د منظورۍ نیټه: ۱۳۹۹ ل. هـ کال د لیندۍ میاشت
تاریخ منظوری: ماه قوس سال ۱۳۹۹ هـ. ش

انجنیر خان محمد "تکل"

د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري لوی رئیس

# په اوبخوړ کې د سېـــلاب او وچکالـۍ د ګواښونو او زیانونو کمولو کړنلاره

# طــرزالعمل کاهش خطرات و خســارات سیــلاب و خشکسالی در حوزه آبریز

# په اوبخور کې د سېلاب او وچکالۍ د ګواښونو او زیانونو کمولو کړنلاره

## لومړی څپرکی

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دا کړنلاره په اوبخور کې د سېلاب او وچکالۍ د ګواښونو او زیانونو کمولو د چارو د ښه تنظیمولو په موخه د اوبو د چارو د تنظیم قانون د څلوېښتمې مادې د حکم په رڼا کې وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

د دې کړنلارې موخې عبارت دي له:

۱- په اوبخور کې د سېلاب او وچکالۍ د ګواښونو او زیانونو کمولو د اړونده چارو تنظیم.

۲- په اوبخور کې د سېلاب او وچکالۍ د ګواښونو او زیانونو

# طرزالعمل کاهش خطرات و خسارات سیلاب و خشکسالی در حوزه آبریز

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول:**

این طرزالعمل به منظور تنظیم بهتر امور کاهش خطرات و خسارات سیلاب و خشکسالی در حوزه آبریز در روشنی حکم مادهٔ چهلم قانون تنظیم امور آب وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادهٔ دوم:**

اهداف این طرزالعمل عبارت اند از:

۱- تنظیم امور مربوط به کاهش خطرات و خسارات سیلاب و خشکسالی در حوزه آبریز.

۲- بهبود مدیریت کاهش خطرات و خسارات سیلاب و

**کمولو د مدیریت بڼه کول.**

**۳- په اوبخور کې د سېلابي زونونو او د وچکالی سیمو مدیریت.**

**<u>اصطلاحگانې</u>**

**دریيمه ماده:**

**په دې کړنلاره کې بڼکتنی اصطلاحگانی لاندې مفهومونه څرګندوي:**

**۱- سېلاب: د اوبو هغه بهیر دی چې کچه یې د اوبو د طبیعي مجراوو له څنډو آوړي او شاوخوا پرتو سیمو ته خوریږي.**

**۲- وچکالي: د اوږد مهال لپاره د اورښت د کمښت څخه عبارت ده چې په خاوره کې د لندبل کموالي، د اوبو د بهیر کمښت او د انسانانو، څارویو او بوټو د ژوند د فعالیتونو او طبیعي پروسې د ګډوډۍ لامل وګرځي.**

**۳- د اوبو مجرا: هغه مقطع ده چې هلته اوبه د اتموسفیر تر فشار**

**خشکسالی در حوزه آبریز.**

**۳- مدیریت زون های سیلابی و ساحات خشکسالی در حوزه آبریز.**

**<u>اصطلاحات</u>**

**مادۀ سوم:**

**در این طرزالعمل اصطلاحات آتی مفاهیم ذیل را افاده می نمایند:**

**۱- سیلاب: عبارت از جریان آب است که از بستر طبیعی مجرای آبی لبریز شده و به اراضی مجاور سرازیر می گردد.**

**۲- خشکسالی: خشکسالی عبارت از کمبود بارندگی در دوره طولانی به نحوی که باعث کمبود رطوبت در خاک، کاهش منابع آب، مختل شدن روند طبیعی فعالیت های انسانی، حیوانی و حیات گیاهی گردد.**

**۳- مجرای آبی: عبارت از مقطع است که آب تحت فشار اتمسفیر**



دافغانستان اسلامي جمهوريت
Islamic Republic of Afghanistan
National Water Affairs Regulation Authority
ریاست پالیسی آب
Water Policy Department

لاندې په ګراویټي بڼه پکې بهیر لري.

۴- چکډېم: د اوبو تاسیساتو له ډلې څخه دی چې د اوبو ذخیره کولو، کنټرول او د سیلاب جریان کمولو په موخه ودانیږي.

۵- سیلابي زونونه: د سیندونو د مجراوو شاوخوا پرتو سیمو ته ویل کیږي کوم چې د سیلاب د بیا راتګ په ټاکلې دوره کې تر اوبو لاندې کیږي.

۶- د وچکالی سیمې: هغه سیمې دي چې د اورښت کچه د نورمال حالت څخه په یوه مشخصه (لنډ مهاله یا اوږد مهاله) دوره کې لږ وي او د ژوندیو، ژوند ته ګواښ او یا د هغوی د بیځایه کېدو لامل ګرځي.

۷- د سیلاب ځنډوونکي، کنټرولوونکي، لیږدوونکي، ذخیره کوونکي او خپروونکي تاسیسات: د اوبو د هغو تاسیساتو له ډلې

بشکل گراویتی در آن جریان داشته باشد.

۴- چکدم: از جمله تاسیسات آب بوده که به منظور ذخیره آب، کنترول و کاهش جریانات سیلاب احداث می گردد.

۵- زون های سیلابی: به سطح از اراضی مجرای دریا یا حاشیه مجاور آن گفته می شود که توسط سیلاب با دوره برگشت معین غرق آب گردد.

۶- ساحات خشکسالی: به ساحاتی گفته می شود که بارندگی در آن کمتر از حد نورمال در یک دوره مشخص (کوتاه مدت و یا طولانی) بوده و باعث تهدید حیات زنده جان ها و یا مهاجرت آنها می گردد.

۷- تاسیسات تأخیری، کنترولی، انتقالی، ذخیروی و پخش سیلاب: از جمله تاسیسات آب بوده که به منظور کاهش

څخه دي چې د سېلاب په زونونوکې د سېلاب ګواښونو او زیانونو کمولو په پار ودانیږي.

<u>اصول</u>

**څلورمه ماده:**

د دې کړنلارې د حکمونو په پلي کولو کې دې لاندې اصول مراعات شي:

۱- د اړونده تقنیني سند حکمونه، او

۲- د اوبو سرچینو هر اړخیز مدیریت.

<u>د پلي کېدو ساحه</u>

**پنځمه ماده:**

د دې کړنلارې حکمونه په اوبخور کې د سېلاب او وچکالۍ د ګواښونو او زیانونو کمولو په چارو کې د پلي کېدو وړ دي.

## دوه یم څپرکی
## دندې، واکونه او مسوولیتونه

<u>د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداری دندې او واکونه</u>

**شپږمه ماده:**

خطرات و خسارات سیلاب در زون های سیلابی احداث می گردد.

<u>اصول</u>

**مادهٔ چهارم:**

در تطبیق احکام این طرزالعمل اصول ذیل رعایت گردد:

۱- احکام سند تقنینی مربوط، و

۲- مدیریت همه جانبه منابع آب.

<u>ساحه تطبیق</u>

**مادهٔ پنجم:**

احکام این طرزالعمل در امور کاهش خطرات و خسارات سیلاب و خشکسالی در حوزه آبریز قابل تطبیق می باشد.

## فصل دوم
## وظایف، صلاحیت ها ومسئولیت ها

<u>وظایف و صلاحیت های اداره ملی تنظیم امور آب</u>

**مادهٔ ششم:**





په اوبخوړ کې د سېلاب او وچکالۍ د ګواښونو او زیانونو کمولو په هکله د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداره لاندې دندې او واکونه لري:

۱- د سېلاب د خنډونکوو، کنټرولوونکو، لېږدوونکو، ذخیره کوونکو او خپروونکو تاسیساتو د ودانولو لپاره د مالي سرچینو سمون او د هغه رهبري او مدیریت.

۲- په اوبخوړ کې د سېلاب او وچکالۍ ګواښونو او زیانونو کمولو په موخه د ظرفیت لوړونې او عامه پوهاوي د برنامو رهبري.

<u>د پلان، پالیسۍ او څارنې د عمومي ریاست دندې او مسوولیتونه</u>

اوومه ماده:

په اوبخوړ کې د سېلاب او وچکالۍ د ګواښونو او زیانونو کمولو په موخه د پلان، پالیسۍ او څارنې

ادارهٔ ملی تنظیم امور آب در خصوص کاهش خطرات و خسارات سیلاب و خشکسالی در حوزه آبریز دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می باشد:

۱- انسجام منابع مالی جهت احیاء و احداث تاسیسات تأخیری، کنترولی، انتقالی، ذخیروی و پخش سیلاب، رهبری و مدیریت آن.

۲- رهبری برنامه های ارتقای ظرفیت و آگاهی دهی عامه به هدف کاهش خطرات و خسارات سیلاب و خشکسالی در حوزه آبریز.

<u>وظایف و مسئولیت های ریاست عمومی پلان، پالیسی و نظارت</u>

مادهٔ هفتم:

ریاست عمومی پلان، پالیسی و نظارت به منظور کاهش خطرات و خسارات سیلاب و خشکسالی در

عمومي ریاست لاندې دندې او مسوولیتونه لري:

۱- د سیلاب او وچکالی ګواښونو او زیانونو کمولو لپاره د اوبو تاسیساتو پروژو د معلوماتو راټولول، لومړیتوب، پلانګذاري او همغږي.

۲- په سیندیزو حوزو کې د سیلاب او وچکالی د ګواښونو او زیانونو کمولو په موخه د اوبو اړونده تاسیساتو د پلي کېدو له اغېزمنتیا څخه څارنه او ارزونه.

<u>د اوبو سرچینو د عمومي ریاست دندې او مسوولیتونه</u>

اتمه ماده:

په اوبخور کې د سیلاب او وچکالی د ګواښونو او زیانونو کمولو په موخه د اوبو سرچینو عمومي ریاست لاندې دندې او مسوولیتونه لري:

۱- په اوبخور کې د سیلابي زونونو تشخیص، تثبیت او د وچکالی د سیمو پېژندل.

حوزه آبریز دارای وظایف و مسئولیت های ذیل می باشد:

۱- جمع آوری ارقام، اولویت بندی، پلان گذاری و سازماندهی پروژه های تاسیسات آب جهت کاهش خطرات و خسارات سیلاب و خشکسالی.

۲- نظارت و ارزیابی از تاثیرات تطبیق تاسیسات آب مربوطه جهت کاهش خطرات و خسارات سیلاب و خشکسالی در حوزه های دریائی.

<u>وظایف و مسئولیت های ریاست عمومی منابع آب</u>

مادهٔ هشتم:

ریاست عمومی منابع آب به منظور کاهش خطرات و خسارات سیلاب و خشکسالی در حوزه آبریز دارای وظایف و مسئولیت های ذیل می باشد:

۱- تشخیص و تثبیت زون های سیلابی و شناسایی ساحات خشکسالی در حوزه های آبریز.

۲- د سېلاب بهیر ماډل کول او د سېلاب او وچکالۍ سیمو زون بندي.

۳- د هایدرولوژیکي ستیشنونو او تیلیمتري ستیشنونو لګول او پراختیا.

۴- د هراړخیزه پلان جوړونې په موخه د سېلاب او وچکالۍ د ارقامو او معلوماتو راټولول.

۵- په اوبخور کې د اقلیمي اغېزو (سېلاب او وچکالۍ) تجزیه او شننه.

۶- د سېلاب او وچکالۍ د بیا تکراریدو شننه.

۷- د اوبو اندول د واورې او یخ په موخه، سروې او موډل کول.

۸- د PMF او SPF نورمونو په پام کې نیولو سره د هایدرتخنیکي ودانیو شننه.

۹- د اړوندو سیندیزو حوزو په مرسته د سېلاب د جذبولو په موخه د اوبولرونکو طبقو څېړنه.

۲- مدل سازی جریانات سیلاب و زون بندی ساحات سیلاب و خشکسالی.

۳- نصب و توسعه استیشن های هایدرولوژیکی و سیستم های تلی متری.

۴- جمع آوری ارقام و معلومات سیلاب و خشکسالی جهت پلانگذاری همه جانبه.

۵- تجزیه و تحلیل اثرات اقلیمی (سیلاب و خشکسالی) در حوزه های آبریز.

۶- تحلیل وقوع تکراریت سیلاب و خشکسالی.

۷- سروی و مدل سازی به منظور میزان آب معادل برف و یخ.

۸- تحلیل ساختمان های هایدروتخنیکی با درنظرداشت نورم های SPF و PMF.

۹- مطالعات طبقات آبدار به منظور جذب سیلاب به همکاری حوزه های دریائی مربوط.

۱۰- د سېلاب او وچکالۍ سیمو د ماډل کولو او زون بندۍ په موخه د وړتیا لوړولو د برنامو جوړول.

۱۱- د اړونده ریاستونو او ادارو سره د سېلابي زونونو او وچکالۍ سیمو د نقشو او ماډلونو شریکول.

**د انجنیري چوپړتیاوو د عمومي ریاست دندې او مسوولیتونه**

**نهمه ماده:**

په اوبخوړ کې د سېلاب او وچکالۍ د ګواښونو او زیانونو کمولو په اړه د انجنیري چوپړتیاوو عمومي ریاست لاندې دندې او مسوولیتونه لري:

۱- د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري د پلان سره سم د سېلاب او وچکالۍ د بیا خل پېښېدو او تکرارېدو د پېښو د ارقامو او معلوماتو په پام کې نیولو سره د سېلاب د خنډوونکو، کنټرولوونکو، زیرمه کوونکو،

۱۰- تدویر برنامه های ارتقای ظرفیت به منظور مدل سازی و زون بندی ساحات سیلاب و خشکسالی.

۱۱- شریک سازی مدل ها و نقشه های زون های سیلابی و ساحات خشکسالی با ریاست های مربوطه و ادارات ذیربط.

**وظایف و مسئولیت های ریاست عمومی خدمات انجنیری**

**مادۀ نهم:**

ریاست عمومی خدمات انجنیری در خصوص کاهش خطرات و خسارات سیلاب و خشکسالی در حوزه آبریز دارای وظایف و مسئولیت های ذیل می باشد:

۱- سروی و دیزاین تاسیسات تأخیری، کنترولی، ذخیروی، انتقال و پخش سیلاب با درنظرداشت ارقام و معلومات وقوع و تکراریت سیلاب و خشکسالی مطابق

لیږدوونکو او خپروونکو تاسیساتو سروې او ډیزاین.

**د سیندیزو حوزو د عمومي ریاستونو دندې او مسوولیتونه**

**لسمه ماده:**

(۱) په اوبخور کې د سېلاب د ګواښونو او زیانونو کمولو په اړه د سیندیزو حوزو عمومي ریاستونه لاندې دندې او مسوولیتونه لري:

۱- د سېلاب د پیښېدو او تکرارېدو لپاره د ارقامو او معلوماتو راټولول او لومړنی شننه.

۲- له اړونده سیندیزو حوزه سره د سېلاب په زونونو او د اوبو تاسیساتو په حریم کې د خپل سرو ودانیو جوړولو د مخنیوي لپاره مرسته او همغږي.

۳- له اړوندو سیندیزو حوزو سره د سېلابي زونونو او وچکالي سیمو په سروې او پېژندنه کې مرسته.

پلان اداره ملی تنظیم امور آب.

**وظایف و مسئولیت های ریاست های عمومی حوزه دریائی**

**مادهٔ دهم:**

(۱) ریاست های عمومی حوزه دریائی در خصوص کاهش خطرات و خسارات سیلاب در حوزه آبریز دارای وظایف و مسئولیت های ذیل می باشند:

۱- جمع آوری ارقام و معلومات سیلاب و تحلیل ابتدائی به منظور وقوع تکراریت سیلاب.

۲- هماهنگی و همکاری با حوزه های دریایی مربوطه به منظور جلوگیری از احداث ساختمان های خود سر در زون های سیلابی و حریم تاسیسات آب.

۳- همکاری در سروی و تشخیص زون های سیلابی و ساحات خشکسالی با حوزه های دریائی ذیربط.

۴- له اړونده سیندیزو حوزو سره د سیلاب مجراوو د تثبیتولو په اړه مرسته او د سیلاب گواښونو او زیانونو کمولو لپاره د تدبیرونو نیول.

۵- په اوبخور کې د سیلاب گواښونو او زیانونو کمولو لپاره له اړونده ریاستونو سره د همغږۍ پیاوړتیا.

۶- له اړونده فرعي سیندیزو حوزو سره د سیلاب گواښونو او زیانونو کمولو په چارو کې له اوبو څخه د گټې اخیستونکو ټولني او میرابانو ته د ظرفیت لوړولو په موخه د ورکشاپونو په جوړولو کې مرسته.

۸- په اړونده اوبخور کې د سیلاب د گواښونو او زیانونو کمولو په اړه عامه پوهاوی.

(۲) په اوبخور کې د وچکالی د گواښونو او زیانونو کمولو په

۴- همکاری در تثبیت مجرا های سیلاب و اتخاذ تدابیر جهت کاهش خطرات و خسارات سیلاب با حوزه های فرعی دریائی مربوطه.

۵- تقویت هماهنگی با ریاست های مربوطه جهت کاهش خطرات و خسارات سیلاب در حوزه های آبریز.

۶- همکاری در تدویر ورکشاپ ها به منظور ارتقای ظرفیت انجمن استفاده کنندگان آب و میراب ها در امور کاهش خطرات و خسارات سیلاب با حوزه فرعی دریائی مربوطه.

۸- آگاهی دهی عامه در خصوص کاهش خطرات و خسارات سیلاب در حوزه آبریز مربوطه.

(۲) ریاست های عمومی حوزه دریائی در خصوص کاهش

اره د سیندیزو حوزو عمومي ریاستونه لاندې دندې او مسؤلیتونه لري:

۱- له اړونده ادارو سره په همغږۍ د اوبو تخصیص ټاکلو په موخه د وچکالی له اغېزو څخه د زیان موندونکو سیمو پېژندل.

۲- په اوبخور کې د څمکې لاندې اوبو سرچینو د ساتنې لپاره له اړونده فرعي حوزو سره مرسته.

۳- د وچکالی زیانونو کمولو لپاره له اړونده سیندیزو حوزو سره د همغږۍ پیاوړتیا.

۴- له فرعي سیندیزو حوزو سره د وچکالی ماډلونو، نقشو او تحلیل شوي ارقامو پایلي شریکول.

۵- د اوبو سپما په اړه عامه پوهاوی.

<u>د فرعي سیندیزو حوزو د ریاستونو دندی او مسوولیتونه</u>

یوولسمه ماده:

خطرات خشکسالی در حوزه آبریز دارای وظایف و مسئولیت های ذیل می باشند:

۱- همکاری در شناسایی ساحات آسیب پذیر از اثرات خشکسالی به منظور تعیین تخصیص آب در هماهنگی با ادارات ذیربط.

۲- همکاری با حوزه فرعی دریائی جهت حفاظت از منابع آبهای زیرزمینی در حوزه های آبریز.

۳- تقویت هماهنگی با حوزه های دریائی مربوطه جهت کاهش خطرات و خسارات خشکسالی.

۴- شریک سازی مدل ها، نقشه ها و نتایج ارقام تحلیل شده خشکسالی با ریاست های حوزه فرعی دریائی.

۵- آگاهی دهی عامه در خصوص صرفه جوئی آب.

<u>وظایف و مسئولیت های ریاست های حوزه فرعی دریائی</u>

مادهٔ یازدهم:

**(۱) په اوبخور کې د سیلاب ګواښونو او زیانونو کمولو په اړه د فرعي سیندیزو حوزو ریاستونه لاندې دندې او مسوولیتونه لري:**

**۱- د سټېشنونو او اړونده مجراوو څخه د سیلاب د ارقامو او معلوماتو راټولول.**

**۲- د سیلابي زونونو او د اوبو تاسیساتو په حریم کې د خپلسرو ودانیو جوړولو د مخنیوي لپاره د اړینو تدبیرونو نیول.**

**۳- په اوبخور کې د سیلاب د ګواښونو او زیانونو کمولو په اړه د کانالونو او مجراوو پاکولو په موخه، میرابانو او د اوبو څخه د ګټې اخیستونکو ټولنې ته د تخنیکي مشورو ورکول او د تدبیرونو نیول.**

**۴- د اړونده ادارو سره د سیلابي زونونو د سروې او پېژندنې په موخه همغږي.**

**(۱) ریاست های حوزه فرعی دریائی در خصوص کاهش خطرات و خسارات سیلاب در حوزه آبریز دارای وظایف و مسئولیت های ذیل می باشند:**

**۱- جمع آوری ارقام و معلومات سیلاب از استیشن ها و مجرا های مربوطه.**

**۲- اتخاذ تدابیر لازم جهت جلوگیری از احداث ساختمان های خودسر در زون های سیلابی و حریم تاسیسات آب.**

**۳- اتخاذ تدابیر و ارایه مشوره تخنیکی به میراب ها و انجمن استفاده کنندگان آب به منظور پاکاری و لایروبی کانالها و مجراهای آب جهت کاهش خطرات و خسارات سیلاب در حوزه آبریز.**

**۴- سروی و تشخیص زون های سیلابی در هماهنگی با ادارات مربوط.**

۵- د سېلابي مجراوو پېژندنه او د سېلاب گواښونو او زیانونو کمولو لپاره د اړینو کړنو تر سره کول.

۶- د سېلاب د څنډوونکو، کنترولوونکو، لېږدوونکو، زېرمه کوونکو، او خپروونکو تاسیساتو د ساتنې او پاملرنې څخه څارنه.

۷- د اړونده ادارو او ټولنیزو نهادونو (میرابانو، د اوبو څخه د ګټې اخیستنکو ټولنو، پراختیایي شوراګانو او نورو بنسټونه) سره د سېلابي زونونو د ماډلونو او نقشو شریکول.

۸- د سېلاب گواښونو او زیانونو کمولو په چارو کې د میرابانو او اوبو څخه د ګټې اخیستوونکو ټولنې ته د ظرفیت لوړولو لپاره د روزنیزو ورکشاپونو دایرول.

(۲) په اوبخور کې د وچکالۍ گواښونو او زیانونو کمولو په اړه د فرعي سیندیزو حوزو

۵- شناسائی مجرا های سیلاب و اتخاذ تدابیر جهت کاهش خطرات و خسارات سیلاب.

۶- نظارت از حفظ و مراقبت تاسیسات تأخیری، کنترولی، انتقالی، ذخیروی و پخش سیلاب.

۷- شریک سازی مدل ها و نقشه های زون های سیلابی با ادارات ذیدخل و نهاد های مردمی (میراب ها، انجمن استفاده کنندگان، شورا های انکشافی) و سایر نهاد ها.

۸- تدویر ورکشاپ ها جهت ارتقای ظرفیت انجمن استفاده کنندگان آب و میراب ها در امور کاهش خطرات و خسارات سیلاب.

(۲) ریاست های حوزه فرعی دریائی در خصوص کاهش خطرات و خسارات خشکسالی در



ریاست پالیسی آب
Water Policy Department

ریاستونه لاندې دندې او مسوولیتونه لري:

۱- له اړونده ادارو سره په همغږۍ د اوبو تأمینولو په موخه د وچکالۍ د اثراتو څخه د اغېز موندونکو سیمو پېژنده.

۲- په اوبخور کې د ځمکې لاندې اوبو سرچینو د ساتنې لپاره د اړینو تدبیرونو نیول.

۳- د وچکالۍ د ګواښونو او زیانونو کمولو لپاره د اړونده اداراتو سره د همغږۍ پیاوړتیا.

۴- له اړونده ادارو او ټولنیزو نهادونو (میراب، د اوبو څخه د ګټې اخیستونکو ټولنې، پراختیایي شوراګانو او واړه بنسټونه) سره د وچکالۍ ساحو د نقشو شریکول.

۵- په اوبخور کې د واورې او باران د اوبو راټولولو او د اوبو په لګښت کې د سپما په اړه عامه پوهاوی.

حوزه آبریز دارای وظایف و مسئولیت های ذیل می باشند:

۱- شناسایی ساحات آسیب پذیر از اثرات خشکسالی جهت تأمین آب در هماهنگی با ادارات ذیربط.

۲- اتخاذ تدابیر لازم جهت حفاظت از منابع آبهای زیرزمینی در حوزه های آبریز.

۳- تقویت هماهنگی با ادارات ذیربط جهت کاهش خطرات و خسارات خشکسالی.

۴- شریک سازی نقشه های ساحات خشکسالی با ادارات ذیدخل و نهاد های مردمی (میراب، انجمن استفاده کنندگان آب، شورا های انکشافی و سایر نهاد ها).

۵- آگاهی دهی عامه در جمع آوری آب برف و باران و صرفه جوئی در مصرف آب در حوزه آبریز.

## د میرابانو دندی او مکلفیتونه

**دوولسمه ماده:**

(۱) په اوبخوړ کې د سېلاب ګواښونو او زیانونو کمولو په اړه، میرابان لاندې دندې او مکلفیتونه لري:

۱- په کانالونو او اوبولګولو شبکو کې د اوبو تنظیم د کنترولي دروازو مدیریت.

۲- د اړونده فرعي سیندیزو حوزه د تخنیکي مشورو سره سم د کانالونو او اوبولګولو شبکو ساتنه او پاملرنه.

۳- د کانالونو او اوبولګولو شبکو د پاکولو، ساتنې او څارنې په موخه د بشري سرچینو (د خلکو حشر) بسیج کول.

۴- د اړوندو ادارو په مرسته د سېلاب په زونونو کې د خپلسرو ودانیو د جوړولو څخه مخنیوی.

(۲) په اوبخوړ کې د وچکالی د ګواښونو او زیانونو کمولو لپاره،

## وظایف و مکلفیت های میراب ها

**مادۀ دوازدهم:**

(۱) میراب ها جهت کاهش خطرات و خسارات سیلاب در حوزه آبریز دارای مکلفیت های ذیل می باشند:

۱- مدیریت دروازه های کنترولی تنظیم آب در کانال ها و شبکات آبیاری.

۲- حفظ و مراقبت کانال ها و شبکات آبیاری به مشوره تخنیکی حوزه فرعی دریائی مربوطه.

۳- بسیج منابع بشری (حشر مردمی) جهت پاککاری، لایروبی و حفظ و مراقبت کانال ها و شبکات آبیاری.

۴- جلوگیری از اعمار ساختمان های خود سر در زون های سیلابی در همکاری با ادارات ذیربط.

(۲) میراب ها جهت کاهش خطرات و خسارات خشکسالی در حوزه آبریز

میرابان اړ دي چې د اوبو لګولو په شبکو کې د اوبو ضایعاتو مخنیوی او حقابې په عادلانه ډول تنظیم کړي.

## له اوبو څخه د ګټې اخیستونکو ټولنې دندې او مکلفیتونه

**دیارلسمه ماده:**

(۱) په اوبخور کې له اوبو څخه د ګټې اخیستونکو ټولنې د سېلاب د ګواښونو او زیانونو کمولو په اړه لاندې دندې او مسوولیتونه لري:

۱- په سېلابي زونونو کې د اړونده ادارو سره د نیالګیو په کېنولو کې مرسته.

۲- د اړونده تقنیني سند د حکمونو په پام کې نیولو سره د سېلاب د خنډوونکو، کنترولوونکو، لېږدوونکو، ذخیره کوونکو او خپروونکو تاسیساتو ساتنه او پاملرنه.

مکلف اند، تا از ضایعات آب در شبکات آبیاری جلوگیری و حقابه ها را طور عادلانه تنظیم نمایند.

## وظایف و مکلفیت های انجمن های استفاده کنند گان آب

**مادهٔ سیزدهم:**

(۱) انجمن های استفاده کنندگان آب در خصوص کاهش خطرات و خسارات سیلاب و خشکسالی در حوزه آبریز دارای وظایف و مسئولیت های ذیل می باشند:

۱- همکاری با ادارات ذیربط جهت غرس نهال در زون های سیلابی.

۲- حفظ و مراقبت تاسیسات تأخیری، کنترولی، انتقالی، ذخیروی، و پخش سیلاب با در نظر داشت احکام سند تقنینی مربوطه.

**۳- د سېلاب او وچکالی د ګواښونو او زیانونو کمولو په موخه عامه پوهاوی.**

**(۲) له اوبو څخه د ګټې اخیستونکو ټولنې د دې کړنلارې د دولسمې مادې د (۱ او ۲) فقرو په رعایت کولو اړ دي.**

## درېیم څپرکی
## نهایي حکمونه

**د سېلابي زونونو تشخیصول**

**څوارلسمه ماده:**

**د سېلابي زونونو په تشخیصولو کې دې لاندې موضوعات په نظر کې ونیول شي:**

**۱- د اورښت شدت، دوام او اندازه.**

**۲- فزیکي او هایدرولوژیکي ځانګړتیاوې.**

**د وچکالی سیمو پېژندنه**

**پنځلسمه ماده:**

**د وچکالی سیمو په پېژندنه کې دې لاندې موضوعات په پام کې ونیول شي:**

**۳- آگاهی دهی عامه جهت کاهش خطرات و خسارات سیلاب و خشکسالی.**

**(۲) انجمن های استفاده کنندگان آب مکلف به رعایت فقره (۱ و ۲) ماده دوازدهم این طرزالعمل می باشند.**

## فصل سوم
## احکام نهایی

**تشخیص زون های سیلابی**

**مادهٔ چهاردهم:**

**در تشخیص زون های سیلابی موضوعات ذیل مد نظر گرفته شود:**

**۱- میزان شدت، دوام و مقدار بارندگی.**

**۲- خصوصیات فزیکی و هایدرولوژیکی.**

**شناسایی ساحات خشکسالی**

**مادهٔ پانزدهم:**

**در شناسایی ساحات خشکسالی موضوعات ذیل مد نظر گرفته شود:**

۱- د اوربښت د کمښت اندازه.

۲- د تطبيقی شاخص ډول.

۳- د اړونده سيمې د تبخير او تعرق اندازه.

۴- د وچکالی شدت، موده او دوام. او

۵- نور اقليمی بدلونونه او نوسانات.

**د سېلاب د ګوابنونو او زيانونو کمول**

**شپاړسمه ماده:**

د سېلاب د ګوابنونو او زيانونو کمولو په موخه د سېلاب کنټرولوونکي، ځنډوونکي لېږدوونکي، ذخيروکوونکي او خپروونکي تاسيسات د لاندې موضوعاتو په پام کې نيولو سره دې جوړ شي.

۱- په اوبخور کې د هايدرولوژيکي پارامترونو موډل کول.

۲- د سيندونو/ رودونو موډل جوړول.

۱- میزان کمبود بارندگی.

۲- نوعیت شاخص تطبیقی.

۳- میزان تبخیر و تعرق ساحه مربوط.

۴- شدت، مدت و دوام خشکسالی، و

۵- سایر تغییرات و نوسانات اقلیمی.

**کاهش خطرات و خسارات سیلاب**

**مادهٔ شانزدهم:**

به منظور کاهش خطرات و خسارات سیلاب تاسیسات تأخیر، کنترولی، انتقالی، ذخیروی، و پخش سیلاب با در نظرداشت موارد ذیل احداث گردد.

۱- مدل سازی پارامتر های هایدرولوژیکی در حوزه آبریز.

۲- مدل سازی دریاها.

**۳- له پورته څخه د اوبو راتلو د اندازه موډل کول.**

**۴- د سېلابي زونونو شننه او موډل کول.**

**۵- د سېلابي زونونو ساحوي سروې.**

**د وچکالۍ د گواښونو او زیانونو کمول**

**اووه لسمه ماده:**

**د وچکالی د گواښونو اوزیانونو کمولو لپاره دې لاندې کړنې ترسره شي:**

**۱- په اوبخور کې د متیورولوژیکي او هایدرولوژیکي پارامترونو موډل کول.**

**۲- د شدت او دوام په پام کې نیولو سره د وچکالی د شاخصونو شننه.**

**۳- د وچکالی څخه د زیان موندونکو سیمو موډل کول.**

**۳- مدل سازی میزان آب ورودی از بالا دست.**

**۴- تحلیل زون های سیلابی و مدل سازی آن.**

**۵- سروی ساحوی زون های سیلابی.**

**کاهش خطرات و خسارات خشکسالی**

**مادهٔ هفدهم:**

**به منظور کاهش خطرات و خسارات خشکسالی اقدامات ذیل صورت گیرد:**

**۱- مدل سازی پارامتر های متیورولوژیکی و هایدرولوژیکی در حوزه آبریز.**

**۲- تحلیل شاخص های خشکسالی با درنظر داشت شدت و دوام آن.**

**۳- مدل سازی ساحات آسیب پذیر خشکسالی.**

## پوهاوی

**اتلسمه ماده:**

د اروندو کړنلارې د حکمونو په پام کې نیولو سره د سیلاب او وچکالی د ګواښونو او زیانونو کمولو لپاره د عامه پوهاوی ترسره کیږي.

## خبرداری

**نولسمه ماده:**

د اروند کړنلارې د حکمونو په پام کې نیولو سره د سیلاب او وچکالی له راتلو څخه د هغه د ګواښونو او زیانونو کمولو په موخه وړاندوینه او خبرداری ترسره کیږي.

## د لایحو او لارښودونو وضع کول

**شلمه ماده:**

د اوبو د سرچینو عمومي ریاست د دې سند د ښه پلي کېدو لپاره کولای شي چې د اروندو ادارو په مرسته د اړتیا وړ لایحې

## آگاهی دهی

**مادهٔ هژدهم:**

اگاهی دهی عامه به منظور کاهش خطرات و خسارات سیلاب و خشکسالی با در نظر داشت احکام طرزالعمل مربوطه صورت می گیرد.

## هشدار دهی

**مادهٔ نزدهم:**

پیشگوئی و هشدار دهی از وقوع سیلاب و خشکسالی به منظور کاهش خطرات و خسارات آن با در نظرداشت احکام طرزالعمل مربوطه صورت می گیرد.

## وضع لوایح و رهنمودها

**مادهٔ بیستم:**

ریاست عمومی منابع آب جهت تطبیق بهتر احکام این سند می تواند لوایح و رهنمود های مورد نیاز را در همکاری با

او لاربښودونه وضع کړي.

**انفاذ**

**یوویشتمه ماده:**

دا کړنلاره تر منظورۍ وروسته نافذه ده.

په اوبخور کې د سېلاب ګواښونو او زیانونو د کمولو کړنلاره چې په ۳ څپرکو او ۲۱ مادو کې تنظیم شوې، منظور ده.

ادارات ذیربط وضع نماید.

**انفاذ**

**مادهٔ بیست و یکم:**

این طرزالعمل بعد از منظوری نافذ است.

طرزالعمل کاهش خطرات و خسارات سیلاب و خشکسالی در حوزه آبریز که در ۳ فصل و ۲۱ ماده تنظیم گردیده، منظور است.

د منظورۍ نېټه: ۱۳۹۹ ل . هـ کال سلواغې میاشت

تاریخ منظوری: ماه دلو سال ۱۳۹۹ هـ . ش

**انجنیر خان محمد "تکل"**

**د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري لوی رئیس**

# د اوبو تاسیساتو د پلان جوړونې، ساتنې او پاملرنې څخه د څارنې کړنلاره

# طــرزالعمل پلانگـــذاری، نظـــارت از حفظ و مــراقبــت تاسیســـات آب

# د اوبو تاسیساتو د پلان جوړونې، ساتنې او پاملرنې څخه د څارنې کړنلاره

## لومړی څپرکی

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**
دا کــړنلاره د اوبــو تاسیســاتو د پــلان جــوړونې، ســاتنې او پــاملرنې څخــه د څــارنې چــارو د ښــه تنظـيم پــه موخــه د اوبـــو د چـــارو د تنظـــيم قـــانون د څلوېښـتمې مـادې د حکـم پـه رڼـا کـې وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**
د دې کـــړنلارې مـــوخې عبـــارت دي له:

۱ـ د اوبـــــو تاسيســـــاتو د پـــــلان جـــوړونې، ســـاتنې او پـــاملرنې څخـــه د څارنې بهیر پياوړتيا.

۲ـ د اوبـــو تاسيســـاتو د کټـــور عمـــر ســـــاتنه او لـــــه ورانيـــــدو څخـــــه مخنيوی.

# طرزالعمل پـــلان گذاری، نظارت از حفــظ و مــراقبـــت تاسیســـات آب

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول:**
ایـــن طرزالعمـــل بـــه منظـــور تنظـــیم بهتـــر امـــور پـــلان گـــذاری، نظـــارت از حفـــظ و مراقبـــت تاسیســـات آب در روشـــنی حکـــم مـــــادهٔ چهلـــم قـــانون تنظـــیم امـــــور آب وضـــع گردیـــده است.

**اهداف**

**مادهٔ دوم:**
اهـداف ایـن طرزالعمـل عبـارت اسـت از:

۱ـ تقویـــت رونـــد پـــلان گـــذاری، نظـــــارت از حفـــــظ و مراقبـــــت تاسیسات آب.

۲ـ حفـــظ عمـــــر مفیـــده تاسیســـات آب و جـــــــلوگیری از تخریـــــب آن.



ریاست پالیسی آب
Water Policy Department

۳- د اوبـــو تاسیســـاتو د ســـاتنې او پـاملرنې پـروژو لــه پلــې کېـدلو څخـه ډاډ ترلاسه کول.

۴- د گواښـــونو کمښـــت او د اوبـــو د ضایعاتو مخنیوی.

## اصطلاحگانې او لنډیزونه

**درېیمه ماده:**

(۱) د اوبـــو د چـــارو د تنظـیم قـــانون، د اوبـــو تاسیســـاتو د کوچنیـــو پـــروژو د تخنیکـــي ســـروي کـــړنلارې او د اوبـــو تاسیســـاتو د تخنیکـــي ډیـــزاین کـــړنلارې اصـــطلاحگانې چـــې پـــه دې کـړنلاره کـې تـرې ذکـر شـوی، ورتــه مفهـــومونه څرگنـــدوي.

(۲) پـــه دې کـــړنلاره کـــې ښـــکتنۍ اصـــطلاحگانې او لنډیزونـــه لانـــدې مفهومونه څرگندوي:

۱- څارنـــه: د پـروژې څخــه د معلومــاتو لاســه تــه راوړلـو، تجزیـې او شـننې او اړونـده مرجع تـه د راپـور ورکولـو لپـاره د دوامـداره سیسـتماتیکې پروسـې څخـه عبارت ده.

۳- حصـــول اطمینـــان از تطبیـــق پـــروژه هـــای حفـــظ و مراقبتـــی تاسیسات آب.

۴- کـــاهش خطـــرات و جلـــوگیری از ضایعات آب.

## اصطلاحات و اختصارات

**مادهٔ سوم:**

(۱) اصـــطلاحات منـــدرج قـــانون تنظـیم امـور آب، طرزالعمـل سـروی تخنیکـی تاسیسـات آب و طرزالعمـل دیـــزاین پـــروژه هـــای کوچـــک تاسیســـات آب کـــه در ایـــن طرزالعمـــل از آن تـذکر بعمـل آمـده همـان مفـاهیم را افاده می نماید.

(۲) اصـــطلاحات و اختصـــارت آتـــی در ایـــن طرزالعمـــل مفـــاهیم ذیـــل را افاده می نماید:

۱- نظـــارت: عبـــارت از پروســـه سیســـتماتیک دوامـــدار اســـت جهـــت بدســـت آوردن معلومـــات از پـــروژه، تجزیـــه و تحلیـــل آن و گـــزارش دهـــی به مرجع مربوطه می باشد.

۲- ارزونه: د پروژې د موخو د تحقق په اړه د معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره د یوه مقطعي پروسې څخه عبارت ده.

۳- راپور: هغه سند دی چې په منظم فارمت کې د ځانګړي موضوع په هکله معلومات اړونده مرجع ته وړاندې کوي.

۴- ساتنه او پاملرنه: د نورمونو او یا تخنیکي سندونو سره سم له سیتاماتیکي ساتني او پاملرنې څخه عبارت ده چې د شتمنیو د ساتنې او حفاظت په مقصد د عمومي کتنې، اساسي او یا قسمي ترمیماتو او بدلونونو او له وخت مخ کې استهلاک د مخنیوي په مقصد لازم تدبیرونه او د شتمنیو د له منځه تللو څخه د مخنیوي او دهغو د رغنده او معقولې ساتنې او حفاظت تدبیرونه صورت نیسي.



۲- ارزیابی: عبارت از یک پروسه مقطعی است جهت کسب معلومات از پروژه به منظور تحقق اهداف آن.

۳- گزارش: سند است که اطلاعات را در یک فارمت منظم برای مراجع ذیربط راجع به یک موضوع ارایه می نماید.

۴- حفظ و مراقبت: عبارت از مراقبت و نظارت سیستماتیک طبق نورم ها و یا اسناد تخنیکی که به مقصد حفظ و نگهداشت دارائی ها، تدابیر لازم جهت معاینه عمومی، ترمیمات و تعویضات اساسی و یا قسمی، اقدامات وقایوی به مقصد جلوگیری از استهلاک قبل از وقت، تدابیر به منظوری اتلاف دارای ها و حفظ و نگهداشت معقول و صحی آن صورت می گیرد.

۵- سکواتور، بلډوزر، موټر، دمتېرک، ګلیډر، کرن، شاول، لوډر او لنګر په دې کړنلاره کې د اوبو تاسیساتو د ماشینرۍ په نوم یادیږي.

<u>د پلي کېدو ساحه</u>

څلورمه ماده:

د دې کړنلارې حکمونه د اوبو تاسیساتو د پلان جوړونې، ساتنې او پاملرنې څخه د څارنې په چارو کې د پلي کېدو وړ دي.

<u>د پلي کېدو مرجع</u>

پنځمه ماده:

د انجنیري چوپړتیاوو عمومي، د اوبو تاسیساتو او شبکو د ساتنې، پاملرنې او کتنې اخیستنې، د عمومي او فرعي سیندیزو حوزو ریاستونه د دې کړنلارې د حکمونو پلي کوونکي دي.

## دوه یم څپرکی

## دندې، واکونه، او مسوولیتونه

<u>د اوبو د چارو د تنظیم د ملي اداری دندې او واکونه</u>

شپږمه ماده:



۵- اسکواتور، بلدوزر، موتر، دمترک، گلیدر، کرن، شاول، لودر و لنگر در این طرزالعمل بنام ماشینری تاسیسات آب یاد می گردد.

<u>ساحه تطبیق</u>

مادۀ چهارم:

احکام این طرزالعمل در امور پلان گذاری، نظارت از حفظ و مراقبت تاسیسات آب قابل تطبیق است.

<u>مرجع تطبیق</u>

مادۀ پنجم:

ریاست های عمومی خدمات انجنیری تاسیسات آب، حفظ، مراقبت، بهره برداری تاسیسات و شبکات، حوزه های عمومی دریائی و فرعی دریائی تطبیق کننده احکام این طرزالعمل می باشند.

## فصل دوم

## وظایف، صلاحیت ها و مسئولیتها

<u>وظایف و صلاحیت های اداره ملی تنظیم امور آب</u>

مادۀ ششم:

د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداره د اوبو تاسیساتو د پلان جوړوني، ساتني او پاملرني څخه د څارني په برخه کې لاندې دندې او واکوونه لري:

۱ـ د اوبو تاسیساتو د پلان جوړوني، ساتني او پاملرني څخه د څارني د چارو ښه والي په موخه د ملي او نړیوالو سرچینو سمون.

۲ـ د چارو ښه والي لپاره اړونده څانګو ته د آسانتیاوو رامنځته کول.

۳ـ د ملي بودیجې په سند کې د ګډون په موخه د اوبو تاسیساتو د ساتني او پاملرني د پلان شریکول.

۴ـ د اوبو تاسیساتو د ساتني او پاملرني لپاره د خصوصي سکتور د پانګې اچوني جلب او جذبول.

<u>د اوبو تاسیساتو د انجنیري چوپړتیاوو د عمومي ریاست دندې او مسوولیتونه</u>

اوومه ماده:

اداره ملی تنظیم امور آب در خصوص پلان گذاری و نظارت از حفظ و مراقبت تاسیسات آب دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می باشد:

۱ـ انسجام منابع ملی و بین المللی به منظور بهبود امور پلان گذاری و نظارت از حفظ و مراقب تاسیسات آب.

۲ـ فراهم آوری تسهیلات برای بخش های مربوطه جهت بهبود امور.

۳ـ شریک سازی پلان حفظ و مراقبتی تاسیسات آب به منظور شمولیت در سند بودجه ملی.

۴ـ جلب و جذب سکتور خصوصی جهت سرمایه گذاری در خصوص حفظ و مراقبت تاسیسات آب.

<u>وظایف و مسئولیت های ریاست عمومی خدمات انجنیری تاسیسات آب</u>

مادهٔ هفتم:

د اوبو تاسیساتو د انجنیري چوپړتیاوو عمومي ریاست د اوبو تاسیساتو د پلان جوړونې، ساتنې او پاملرنې څخه د څارنې په برخه کې لاندې دندې او مسوولیتونه لري:

۱- له اړوندو ادارو سره د اوبو تاسیساتو د پلان جوړونې، ساتنې او پاملرنې څخه د څارنې په چارو کې د همغږۍ رامنځته کول.

۲- د اوبو تاسیساتو د ساتنې او پاملرنې څخه د څارنې سیمه ییزو ټیمونو ته د اړتیا وړ آسانتیاوو رامنځته کول او د هغوئ د وړتیاوو لوړول.

۳- له اړوندو ادارو سره په همغږۍ د اوبو تاسیساتو د ساتنې او پاملرنې څخه د څارنې پروسې پیاوړتیا.

۴- د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري له مشرتابه سره د اوبو تاسیساتو د ساتنې او پاملرنې څخه

ریاست عمومی خدمات انجنیری تاسیسات آب در خصوص پلان گذاری، نظارت از حفظ و مراقبت تاسیسات آب دارای وظایف و مسئولیت های ذیل می باشد:

۱- هماهنگی با ادارات مربوطه در امور پلان گذاری، نظارت از حفظ و مراقبت تاسیسات آب.

۲- فراهم آوری تسهیلات لازم به تیم های ساحوی جهت نظارت از حفظ و مراقبت تاسیسات آب و ارتقای ظرفیت آن ها.

۳- تقویت پروسه نظارت از حفظ و مراقبت تاسیسات آب در هماهنگی با ادارات ذیربط.

۴- شریک سازی گزارشات نتایج نظارت از حفظ و مراقبت تاسیسات آب با

د څارنې پایلو د راپورونو شریکول.

۵- د دې کړنلارې د حکمونو له پلي کېدو څخه څارنه.

**د اوبو تاسیساتو او شبکو د ساتنې، پاملرنې او ګټې اخیستنې ریاست دندې او مسوولیتونه**

**اتمه ماده:**

(۱) د اوبو تاسیساتو او شبکو د ساتنې، پاملرنې او ګټې اخیستنې ریاست د اوبو تاسیساتو د پلان جوړونې، ساتنې او پاملرنې په برخه کې لاندې دندې او مسوولیتونه لري:

۱- د اوبو تاسیساتو د حالت څرنګوالي لپاره د ارقامو او معلوماتو راټولولو په موخه لیدنه.

۲- د اوبو تاسیساتو د ساتنې او خوندیتوب د کلنۍ پلان جوړونې په موخه د راټول شوو معلوماتو شننه او لومړیتوب ټاکل.

رهبری اداره ملی تنظیم امور آب.

۵- نظارت از تطبیق احکام این طرزالعمل.

**وظایف و مسئولیت های ریاست حفظ، مراقبت، بهره برداری تاسیسات و شبکات آب**

**مادهٔ هشتم:**

(۱) ریاست حفظ، مراقبت، بهره برداری تاسیسات و شبکات آب در خصوص پلان گذاری و نظارت از حفظ و مراقبت تاسیسات آب دارای وظایف و مسئولیت های ذیل می باشد:

۱- بازدید به منظور جمع آوری ارقام و معلومات از چگونگی وضعیت تاسیسات آب.

۲- تحلیل ارقام و معلومات جمع آوری شده و اولویت بندی آن به منظور پلان گذاری امور حفظ و مراقبتی تاسیسات آب بطور سالانه.



Water Policy Department

۳- د اوبو تاسیساتو د ارقامو او معلوماتو د ډیټابیس جوړول.

۴- د اوبو تاسیساتو د ساتنې او پاملرنې د چارو ښه والي په موخه د سیمه ییزو دفترونو کارکوونکو ته لارښوونه.

۵- د اوبو تاسیساتو له توکو، تجهیزاتو او ماشینرۍ څخه څارنه.

۶- د سیمه ییزو دفترونو د انجنیرانو او کارکوونکو د پلانونو او وړتیاوو ارزونه.

۷- د اوبو لویو تاسیساتو لپاره د سیمه ییزو دفترونو د بیړنیو تدبیرونو او اضطراري پلان ارزونه.

۸- د عمومي او فرعي سیندیزو حوزو د اوبو تاسیساتو له ډیټابیس سیسټم څخه څارنه.

۹- د بودیجې څخه د غوره ګټې اخیستنې په موخه د لارښودونو جوړول او د اوبو تاسیساتو د ساتنې او پاملرنې د وړاندوینې د کلنۍ پلان جوړول او د عمومي او



۳- ایجاد دیتابیس ارقام و معلومات تاسیسات آب.

۴- رهنمایی پرسونل دفاتر ساحوی جهت بهبود امور حفظ و مراقبت تاسیسات آب.

۵- نظارت از وسایل، تجهیزات و ماشینری تاسیسات آب.

